پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۱٦

# د افغانستان دائمی بیطرفی

## خـپرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**اتمه برخه**

# د افغانستان طلوع

له یادو پېښو وروسته تر دوه سوو کالو پورې افغانستان د یوۀ یو موټي ټاټوبي په توګه نـۀ پېژندل کـېـدۀ؛ «خو له دغـۀ حالت سره سره، بیا هم دا ټاټوبی د بومي زړورو او جنګیالیو پرګنو او ټولنو یوه ټولګه وه چې د باندنیو امپراتوریو تر منځ ئـې د قدرت د انډول د تلې شاهین په لاس کې درلود.» د پوځي چارو تأریخ لیکونکی تنر په هېښـنده ژبې لیکي،« له دې مخکې، د سویس پرګنو هم د همدوی په شان زړور، جنګیالي او ګڼ - قومي وګړي ول چې په غرنیو سیمو کې ئـې استوګنه درلودله او د خپل قلمرو له سیمې دباندې ئـې بریدونه او لوټماری کولې، دوی به ډېري وختونه تالان او تاړاکونه کول او تل به ئـې یا د باندنیو سلطنتونو پر وړاندې مخالف دریځ ونیوۀ او یا به ئـې له هغو سلطنتونو سره ټلواله جوړه کړه چې سرخوږی ئـې ورته نـۀ جوړاوۀ. **خو په ۱۵۱۵ز کال کې سویسیانو د خپلې ملي بشپړتیا د ساتلو په موخې خپله «نظامي بې طرفي» ومنله ان تر دې چې که سویسي جنګیالي د مزدورو جنګیالیو په توګه په ټولې اروپا کې د نورو لپاره جنګېدل خو سویسیانو بیاهم خپله بې طرفي ساتله.** له دې کبله **افغانستان په دې پړاو کې،** هم - د سویټزرلنډ په پرتله سوکه خوځښت کړی او هم- د هغـۀ هېـواد په پرتله وړاندې تللی دی؛ هغه مهال **افغانستان و نـۀ سو کولای «او ان تر اوسه هم نـۀ دی توانیدلی» د خپلو ګډوډو او له یو بله بېلو وګړنیزو ټولنو ستونزه د خپلې کورنی -همغږی لپاره حل کړي، حال دا چې سویس هغه مهال د ټولنې له منځه د ډیموکراسی د راپاڅېدلو بت ماتوونکو دکتورینو له لارې دغې موخې رسېدلی وو.** سویس په شپاړلسمې پېړی کې د یوۀ جګاړ او جګړې - پیلوونکي هېـواد وضعیت نور شاته غورځولی وو حال دا چې تر دې مهاله په آسیا کې د افغانستان د پرګنو نظامي برلاسوالی او مهارت لا څرګند نـۀ وو.»[١]

مغولي هژموني چې د مغولي لښکریانو له خوا پلې کېدله د فارس په ختیځ کې د افغانستان پرګنې چې ټاټوبی ئـې آریانا نومېدۀ لکه خراسان، خوارزم، سند او بلوڅستان داسې دړې وړې کړی وو چې نور توان ورته نـۀ وو پاتې. دوی بله چاره نـۀ درلودله مګر دا چې غرونه ته وخېږي څکه غرنی سیمې دوی او ددوی کورنیو ته د امن ځایونه ول، یو شمیر خلک چې ددغو مغولي سیمه ییزو سلاطینو تر واکمنی لاندې ول د هندوکش دنګو سیمو ته وختل او د خپلې خپلواکی لپاره ئـې خپله مبارزه پیل کړه. د افغانستان د پرګنو د هغـۀ مهال د نامتو اتلانو له منځه یو هم **بایزید پیر روښان** «۱۵۲۵ – ۱۵۸۱م» وو. بایزید په جلهندر کې په یوې مذهبي کورنی کې سترګې نړۍ ته وغړولې، جلهندر «په پنجاب کې» د ډیلي د خاناتو یوه سیمه وه، ورپسې د بایزید کورنی سویلي وزیرستان کې د کانیګرام سیمې ته څکه راکډه سوه چې همدا ئـې اصلي ټاټوبی وو او دلته استوګن سول. د بایزید پلار د وزیرستان عالي مقامه قاضي وو، بایزید د همداسې عالم پلار تر لارښوونې لاندې په تنکی ځوانی کې علم الکلام ته مخه واوړه. بایزید د خپل پاړکیز یا طبقاتي امتیاز په ګډون د ټولنې د یو شمیر دودونو پر وړاندې مخالفت پیل کړ. یوه ورځ ئـې له خپل مشر ورور سره د بحث او جدل پر مهال شخړه رامنځته سوه، د شخړې په منځ کې ول چې پلار ئـې د قضاوت لپاره په خبرو کې ورننوت او ورته وئـې ویل، «ګرانه زویه! یا دا چې له خپلو رادیکالو نظریاتو څخه لاس واخله او یا زما له کوره ووځه!» بایزید غوره وګڼله چې د پلار له کوره

[١] - Ditto.  Tanner, Stephen.  Da Capro Press; Revision ۲۰۰۹: (The Rise of Afghanistan), p. ۱۰۹.

ووځي، د خپل پلار لاسونه ئـې په درنښت ښکل کړل او له کوره څه چې ان د خپلو خاپوړو له ټاټوبي هم ووت، بايزيد له کور کلي ليري د خپلو نظرياتو خپرولو ته ملا وتړله. او د مهمندو د قوم په منځ کې او هم ئـې په پېښنور او شاو خوا سيمو کې ځانته ډېر همغږي لارروپان وموندل، ورپسې د خليلو او محـمدزيو په منځ کې ئـې خپل نظريات خپارۀ

کړل.» (ويکيپيډيا). خلکو بايزيد د **پير روښان «دمعرفت د څراغ»** په نامـۀ ياد کړ. وروسته له دې چې بايزيد د امپراتور اکبر پروړاندې مذهبي او پوځی مخالفت پيل کړ، پير روښان د اکبر د «دين الهي» د نظريې پر وړاندې هم ودريد نو امپراتور اکبر د *سيد الترمزي او آخوند درويزه* په شان ديني علما راټول کړل چې د پير روښان، **روښانيه غورځنګ** ګمراه معرفي کړي. خو پير روښان، له زبده شاهانه مخالفت سره سره بيا هم کولای سول د افغانستان د قومونو په منځ کې ځانته بې شميره پيروان ومومي. ونسنت سميټ *Vincent Smith* په خپل نامتو کتاب کې، «روښانيه غورځنګ» د مغولو د واکمنۍ پر وړاندې د «پښتون د مقاومت» په نامـۀ يادوي.[٢]



پير روښان – چې کولای سو د رنسانس پلار ئـې وبولو

---

٢ - Smith, Vincent A. Oxford History of India. From the Earliest Time to end of ١٩١١. Book I-IX. Oxford University Press. London, Edinbrough, New York, Toronto, Melbourne, Cape Gown, Bombay. ١٩١١.

پیر روښان د **تیرا** دره د خپلو فعالیتونو د مرکز په توګه غوره کړه او له همدې ځایه ئـې د خپل روښانیه غورځنګ مشري او لارښوونه پیل کړه او وئـې کولای سول د مغولي ستړواکی د واکمن، اکبر پر ضد د پاڅون او بغاوت بیرغ پورته کړي. د بایزید فکري لارښوونې د **تصوف** د لارې بر بنسټ ولاړې وې؛ پیرروښان **انسان ته وښوول چې ځان د ناپوهی او جهل، تعصب او لنډ فکری له اسارته خلاص کړي. پیر روښان د انسانیت له نړی څخه په ټینګار غوښتل چې د علم د زده کړې لپاره دې د هڅو لستوڼي بډ وهي، هغـهٔ د ښځو د حقونو پر مساوات او له نارینه وو سره په برابر حق او هم علم او معرفت ته پر برابرې لاسرسی ټینګار درلود.**

پیر روښان د مغولي تاړاک پر وړاندې ځو زوروري جګړې تر لاس لاندې ونیولې خو په خواشینی چې په ۱۵۱۸ز کال کې د جنرال محسن خان تر مشرۍ لاندې ننګرهار ته څېرمه د مغولي لښکر پر وړاندې ماته وخوړله. پیر روښان ووژل سو، ددهٔ له مړینې وروسته ټولو زامنو ئـې د پلار پر ځای د خپل ځوارلس کلن کشر ورور «جلاله» ځایناستي ومنله، ستړواک اکبر شخصاً جلاله د هغـهٔ د کم عمر په پار معاف کړ. خو د پیر روښان زوی جلاله «د ګنګوسو له مخې ویل کېږي چې د جلال آباد د ښار نوم د همدغـهٔ جلاله له نامـهٔ څخه راغلی دی» په ډېر لنډ وخت کې د مغولو د ستړواکی پر وړاندې پاڅون وکړ او د خپل پلار په پرتله ئـې ستر پوځي بریالیتونه تر لاسه کړل او د پلار په شان ئـې د روښانیي د فلسفي لاره تعقیب کړه. له دې کبله د تعجب ځای نـهٔ دی چې د پیر روښان نامتو کتاب خیرالبیان د صوفیزم فلسفه د تزکیې په اوو پړاوونو کې شرحه کوي چې تر یوی کچې د عطار د «مینې د اوو ښارونو یا وادیو- ژ» له «منطق الطیر» سره ورته والی لري. هغه پړاونه چې *پیر روښان یا بایزید انصاري* ئـې شرحه کوي دا دي :

۱. شریعت ۲.طریقت ۳. حقیقت ۴. معرفت ۵. قرابت ۶. وصلت ۷ وحدت او استوګنه

د عطار د مینې اووهٔ ښارونه دا دي :

۱. طلب، ۲. عشق، ۳. معرفت، ۴. استغنا، ۵. توحید، ۶. حیرت او ۷. فقر او فنا

**لومړی شریعت** : د اسلام په پینځو ارکانو ولاړ دی: الف: د الله «ج» په مطلقه توحید اقرار یا شهادتین. ب. زکات، بې وزلو ته د خپل عاید د دوه په سلو کې ورکړه. ج. د پینځو وختونو د لمانځـهٔ اداء کول. د. روژه. ی. حج

**دویم طریقت** : د الله «ج» متداوم ذکر تر هغـهٔ مهاله چې روح او زړهٔ دواړه د مطلوبه کمال «بشپړ انسان» پر لور د هدایت وړتیا تر لاسه کړي.

**دریيم : حقیقت** : د ګومان عارفانه رمز پراختیا مومي او وروسته هغه مهال په نـهٔ ماتیدونکې ایمان بدلیږي چې له بې اعتقادۍ څخه د زړهٔ بشپړه تزکیه تر لاسه سي.

**څلورم معرفت** : عارف د زړهٔ په سترګو شیانویني. دلته صوفي د هستي روڼا ویني او هم هر هغه شی ویني چې فزیکي وجود ولري او ددوی حقیقي هستي ویني. بایزید وایي چې دا د پیغمبرانو د اسرار پړاو دی.

**پینځم قرابت :** عارف خپل ځان الله «ج» ته نیږدې ویني او د هر شي په ګاونډ کې هستي ویني، همدا شان په دغـهٔ پړاو کې عارف د هر شي غږ اوري چې د الله «ج» حمد او ثنا وایي.

**شپږم وصلت** : عارف خپل فردیت له لاسه ورکوي او خپله هستي هیروي. دلته عارف یوازې یوه هستي ویني، هر هغه څه چې عارف ویني او وربانډې عمل کوي د حقیقت یوه برخه ده.

**اووم وحدت** : عارف حقیقت په حقیقت درک کوي او ویني ئي. دلته د هستي هر شی حقیقت لري. دا د مراقبي یا مشاهدې دریيم پړاو دی او د عارفانو په وینا دا پړاو په پړاونو کې تر ټولو لوړ پړاو دی.

*بایزید انصاري «پیر روښان»* « د حضرت پیغمبر له اصحابو سره تعلق چي په هجرت کي ورسره یو ځای ول» د عرفاني لذت اووم پړاو وحدت بولي، په دغهٔ پړاو کي عارف خپل موجودیت له لاسه ورکوي او په بشپړه توگه د الله «ج» په هستی کي ننوځي. پیر روښان د قرآني آیت پر بنسټ وایي، «انسان، کله چي په ما «الله (ج)» کي ډوبیږي، ما باید په یاد ولري او خپله هستي دې هیره کړي. وگوره، زه د انسان په هر ویښته، د غوښي په منځ او د تن، د وینو، رگونو، هډوکو او د هغهٔ د ماغزو په منځ کي یم؛ په هر هغهٔ شي کي دننه موجود یم چي د انسان د بدن برخه دي. له شک پرته چي زما هستي د هر شي یوه برخه ده، کټ مټ هماغسي چي د انسان د بدن یوه برخه ده.

**سورهٔ ق ۱۶آیـه**

**وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾**

**ترجمه : او په یقین،انسان مو پیدا کړی او په هغهٔ څه پوهیږو،چي نفس ئـي دی پرې وسوسه کوي [له نفساني وسوسو ئـي خبر یو] او موږ تر شاهرگه هم ډېر ورنـېژدې یو.**

دا وراشه ددې رسالي له حوصلي پورته ده چي ددې مسائـلو د ژورتیا په باب ورباندې دلته خبرې وسي د بـېلگي په توگه د پیر روښان د *محي الدین ابن عربي* او همدا شان د *عطار*، *رومي*، *چشتي*، *جامي* او نورو د وحدت الوجود فلسفي اړخ د الف مجدد ثاني «چي د *امام رباني یا سرهندي* په نامهٔ هم پیژندل کـېږي» له وحدت الشهود سره پرتله سي. په بله وینا د *امام رباني* وحدت الشهود د شهودی توحید په نامهٔ هم یادیږي یعني **شهودي وحدت** یا په سترگو لیدل کیدونکی وحدت د ذهني ادراک پر بنسټ. پرته له دې چي د صوفیزم د مکتب په عارفانه فلسفه کي د یوهٔ صوفي فلسفه له یو بل سره پرتله کړو غوره بولم چي ددوی ټولو افکار د **بشرپالني یا هومانیزم** یوه جهان بیني ونوموم[۳].

د



عطار منطق الطیر

[۳] - Zikria, B.A. One Home, One Family, One Future: Nine Universalists; Author House, Bloomington, Indiana: ۲۴۱ pages, ۲۰۱۰.




شیخ فریدالدین عطار (۱۱۴۵ – ۱۲۲۱ م)

دا کوم درد دی چي درمان نــهٔ لري

دا کومه لار ده چي پای نــهٔ لري

هو ای لالهانده زړگیه د سختیو په دي وادی کي

به تر څو روان ئـي چي پای نـهٔ لري (شیخ فرید الدین عطار)

د اتمی برخه پای
نور بیا

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د افغانستان دائمی بیطرفی (اتمه برخه)
zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_۸.pdf